پوهنیار حزب الله رحمانی

د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه

د ښوونې او روزنې پوهنځی

بیولوژی څانګه

# د چاپېریال ساتنې په برخه کې د عامه پوهاوي اهمیت

## لنډیز (Abstract)

دا څېړنه د پکتیکا ولایت په مرکز شرنه کی چی د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسې د ښوونې او روزنې پوهنځی ۷۱ تنو محصلینو پکی ګډون کړی وه د چاپیریال ساتنی په برخه کی د عامه پوهاوی د اهمیت معلومولو په موخه شوې ده. ددې څېړنې لپاره پوښتن پاڼې او ساحو ی مشاهده د میتودولوژی په حیث انتخاب شوی دي. د څېړنې پایله دا روښانه کوي چی ۵۹.۲ سلنه د سروی ګډونوال عامه پوهاوی او ۳۵.۲ سلنه د چاپېریالی قوانینو پلی کول مهم ګڼی. په پکتیکا کی خلګ د عامه پوهاوی د نشتوالی له کبله د چاپیریال ساتنی په فعالیتونو برخه نه اخلی او هر ځای ککړوونکی موادو غورځوی که چیری دا حالت همداسی دوام و لری نو لیری نده چی په یو ناورین به تبدیل شی.

**کلیدي کلمې**: عامه پوهاوی ،چاپیریال ساتنه، چاپېریالی ستونزې

## سریزه (Introduction)

انسانی فعالیتونو په ځمکنی چاپیریال باندي زیاتی او د پام وړ اغیزی کولی شی. چاپیریال ساتنه عبارت له هر هغه فعالیت څخه دی چی په انفرادی، اداری او یا هم د دولت په سطحه د چاپیریال کیفیت د دواړو د طبیعی چاپیریال او هم د انسان د ګټو په خاطر وساتي. چاپیریال ساتنه د راتلونکی نسلونو لپاره د لومړیتوبونو څخه ګڼل کیږي. د چاپیریال ساتنی په برخه عامه پوهاوی عبارت له هغی وړتیا څخه ده چی د هغی په وسیله کولی شو له خپلی شا او خوا نړۍ په شمول د هغو تغیراتو کوم چی په چاپیریال کی رامنځ ته کیږي، د بشری سلوک او چاپیریالی کیفیت ترمنځ اړیکو څخه باخبره شو او هم موږ ته ددې مسؤلیت احساس راکوي تر څو هغه د راتلونکو نسلونو لپاره وساتو. چاپیریالی ستونزې لکه د فاضله اوبو او فاضله موادو کنترول د نړۍ له جدی ستونزو څخه ګڼل کیږي. نو ځکه عامه پوهاوی او برخه اخستنی په مؤثره ډول د چاپیریال د تنظیم او ساتنی لپاره ډیر اړین دی (Apichatibutarapong , 2018 ). د ملګرو ملتونو د اقلیمی بدلون کنوانسیون او کیو تو پروتوکول یواځی د عامه او مهمو ذیدخلو اړخونو د فعالی برخه اخستنی په وسیله کامیابی ته رسیدای شی. لکه څرنګه چی دولتونو په مسقیم ډول د شین کوریز ګازاتو د اذادیدو د کمی برخی مسؤل دي نو پدي خاطر باید تجاران، ټولنی او افراد وهڅوی تر څو خپل سلوک ته داسی تغیر ورکړی چی د ګازاتو د اذادیدو له محدودیتونو سره توافق وکړي. نو ځکه عامه پوهاوی او معلوماتو ته لاس رسی د دولتی پالیسویو او قوانینو د حمایت لپاره ډیر مهم ګڼل کیږي (UNEP, 2006 ). زیات شمیر چاپیریالی ستونزی نه یواځی د صنعتی او زراعتی ککړوونکو په وسیله رامنځ ته شوی، همدارنګه د عامه پوهاوی نشتوالی بل مهم لامل ګڼل کیږي. نو ځکه د چاپیریال ساتنی اړوند د عامه پوهاوی لوړول ډیر مهم او ضروری دی (Xua et al,

(2011. اقلیمی بدلون په روغتیا باندي لنډ مهاله او اوږد مهاله ناوړه اغیزي کولی شی. له ۲۰۳۰-۲۰۵۰ م کالو پوری به د اقلیمی بدلون څخه هر کال د مړینو په شمیر کی ۲۵۰،۰۰۰ په اندازه زیاتوالی راشي. د دولتونو،نړیوالو ادارو او غیری دولتی ادارو سربیره د عامه وګړو برخه اخستنه د دا ډول چاپیریالی ستونزو د مخنیوی لپاره ډیر اړین دی. د عامه پوهاوی، همکاری او تعهد په وسیله دا ډول چاپیریالی ستونزی په اسانی سره کنترول کیدای شي Rapaport & Ashkenazi, 2016 )). د چاپیریالی ساتنی ښوونه او روزنه د UNESCO-UNEP (1978) له مهمو او اساسی موخو څخه ګڼل کیږی، چی په اساس یو شخص کولی شی چی د چاپیریالی ستونزو په حل کونه کی د پوهاوی، روښونو، مهارتونو او برخی اخستنی په وسیله په فعال ډول ونډه واخلی (Mohamed, Kidundo, & Tagelseed, 2006 ) .

## موخه (Objective)

د چاپیریال ساتنې په برخه کې د عامه پوهاوي د اهمیت معلومول.

## مواد او کړنلاره (Material and Method)

ددي څیرنی لمړنی معلومات د پوښتن پاڼو او ساحوی مشاهدي په وسیله تر لاسه شویدي او دوهمی معلومات تر لاسه کولو لپاره له بیلابیلو علمی منابعو څخه لکه کتابونو،مجلو او د کنفرانسونو له نشریو څخه ګټه اخستل شویده.پدي څیرنه کی د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسی د ښوونی او روزنی پوهنځی د فزیک ،ریاضی او بیولوژی څانګو څخه ۷۱ تنو محصلینو برخه اخستی وه. لاسته راغلي نتایج د SPSS په وسیله تحلیل شوي دي. د څیرنی د تحلیل میتود Frequency او Percentage وه څکه دا میتود د پوښتن پاڼو د تحلیل لپاره تر ټولو غوره او مناسب میتود دی.

## پایله (Result)

په دي څیرنه کی چی کومه پوښتنه پاڼه کارول شوی وه د مختلفو برخو لکه د ګډوانوالو په هکله عمومی معلومات،د افغانستان جدی چاپیریالی ستونزی، د حل لاری، د عامه پوهاوی وسیلی، د چاپیریالی ستونزو په حل کی برخه اخستنه او نورو لرونکی ده .

جدول : ۱- جنډر

| | Frequency | Percent |
|---|---|---|
| مذکر | 71 | 100.0 |

دا چی د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه تر اوسه ښځینه زده کړیالان نه لري نو څکه د سروی ټول ګډونوال نارینه محصلین دي.

جدول:۲- د اوسیدو ځای

| | Frequency | Percent |
|---|---|---|
| کلی | 58 | 81.7 |
| ښار | 13 | 18.3 |
| Total | 71 | 100.0 |

لکه څرنګه چې په جدول (۲) کی لیدل کیږی ددي سروی ۸۱،۷ سلنه برخه وال په کلیوالی ساحو او ۱۸،۳ سلنه يي په ښاری سیمو کی ژوند کوي.

جدول: ۳- ټولګی

| | Frequency | Percent |
|---|---|---|
| لمړی | 15 | 21.1 |
| دوهم | 23 | 32.4 |
| دریم | 33 | 46.5 |
| Total | 71 | 100.0 |

لکه څرنګه چې په پورته جدول کی لیدل کیږي د سروی ټول ګډنوال د لمړی، دوهم او دریم ټولګی محصلین دي دا ځکه تراوسه پوری څلورم ټولګی ندي شروع شوي.

جدول:۴- په افغانستان کی جدي چاپیریالی ستونزي

| | Frequency | Percent |
|---|---|---|
| د هوا ککړتیا | 13 | 18.3 |
| د غږ ککړتیا | 6 | 8.5 |
| د اوبو ککړتیا | 10 | 14.1 |
| د خاوری ککړتیا | 4 | 5.6 |
| ورانګیزه ککړتیا | 3 | 4.2 |
| د اوزون له منځه تلل | 7 | 9.9 |

| | | |
|---|---|---|
| په ښارۍ سیستم کې ستونزې | 10 | 14.1 |
| د طبعی منابعو له منځه تلل | 13 | 18.3 |
| د فاضله موادو نه تنظیم | 5 | 7.0 |
| Total | 71 | 100.0 |

د سروې له ګډنوالو څخه په افغانستان کې د جدي چاپیریالی ستونزو په هکله پوښتنه شوې چې ۱۸،۳ سلنه د هوا ککړتیا، ۱۴،۱ سلنه د اوبو ککړتیا، ۱۴،۱ سلنه په ښارې سیستم کې ستونزې او ۱۸،۳ سلنه د طبیعی منابعو له منځه تلل جدي ګڼلی وي.

جدول:۵- د چاپیریالی ستونزو د حل لاري

| | Frequency | Percent |
|---|---|---|
| تیکنالوژیکی اصلاحات | 3 | 4.2 |
| د عامه پوهاوی د سطحی لوړول | 42 | 59.2 |
| د چاپیریالی قوانینو پلی کول | 25 | 35.2 |
| په صنعت کی د متبادلو اومو موادو کارول | 1 | 1.4 |
| Total | 71 | 100.0 |

لکه څرنګه چی په جدول (۵) کی لیدل کیږی ۵۹،۲ سلنه ګډنوالو په نظر عامه پوهاوی،۳۵.۲ د چاپیریالی قوانینو پلی کول او ۱،۴ سلنه په صنعت کی د متبادلو اومو موادو کارول د چاپیریالی ستونزو مناسبی حل لاري دي.

جدول:۶- د عامه پوهاوي وسیلي

| | Frequency | Percent |
|---|---|---|
| کنفرانسونه-سیمینارونه | 25 | 35.2 |

| | | |
|---|---|---|
| اخبار،مجلې،کتابونه | 15 | 21.1 |
| راډیو-تلویزون | 28 | 39.4 |
| د غیری دولتی ادارو فعالیتونه | 3 | 4.2 |
| Total | 71 | 100.0 |

لکه څرنګه چی په پورته جدول کی لیدل کیږی د چاپیریال ساتنی په هکله د عامه پوهاوي غوره او مناسبي وسیلی کنفرانسونه،سیمینارونه، راډیو او تلویزون دي.

جدول:۷- د چاپیریال ساتنی اړوند نشریو تعقیبول

| | Frequency | Percent |
|---|---|---|
| بلی همیشه تعقیبوم | 9 | 12.7 |
| کله کله تعقیبوم | 51 | 71.8 |
| نه تعقیبوم | 7 | 9.9 |
| ځواب نشته | 4 | 5.6 |
| Total | 71 | 100.0 |

په پورته جدول کی لیدل کیږی چی ۷۱،۸ سلنه د سرویی ګډنوال کله د چاپیریال ساتنی اړوند نشر یی تعقیبوئ، ۱۲،۷ سلنه همیشه دا په داسي حال کی ۹،۹ سلنه هیڅ نه تعقیبوي.

جدول:۸- د چاپیریال ساتنی په فعالیتونو کی د برخی اخستنی ډول

| | Frequency | Percent |
|---|---|---|
| رضا کارانه ډول کار کول | 49 | 69.0 |
| نغدی مرسته | 14 | 19.7 |
| یو هم نه | 4 | 5.6 |
| ځواب نشته | 4 | 5.6 |

| | | |
|---|---|---|
| Total | 71 | 100.0 |

په جدول (۸) کی لیدل کیږی چی ۶۹ سلنه وګړي غواړی چی د چاپیریال ساتنی په فعالیتونو په رضا کارانه ډول برخه واخلی او ۱۹،۷ سلنه د چاپیریالی ساتنی له فعالیتونو سره مالی مرسته کوي.

جدول:۹- د ترانسپورت ډول

| | Frequency | Percent |
|---|---|---|
| باسیکل | 24 | 33.8 |
| موټر | 8 | 11.3 |
| عامه ترانسپورت | 36 | 50.7 |
| ځواب نشته | 3 | 4.2 |
| Total | 71 | 100.0 |

لکه څرنګه چی جدول کی لیدل کیږی ۵۰،۷ سلنه د سروی ګډنوال عامه تراسپورت او ۳۳،۸ سلنه باسیکل د ترانسپورت غوره وسیلی ګڼی.

جدول:۹- د چاپیریال ساتنی په فعالیتونو کی برخه اخستنه

| | Frequency | Percent |
|---|---|---|
| هو | 59 | 83.1 |
| نه | 9 | 12.7 |
| ځواب نشته | 3 | 4.2 |
| Total | 71 | 100.0 |

د سرویي له ګډنوالو څخه پوښتنه شوی وه چی  ایا  دوی کله د چاپیریال ساتنی په کوم فعالیت  ( د مثال په ډول لکه د فاضله موادو راټول، د نیالګیو کینول او داسی نورو) کی برخه اخستی ده ۸۳،۱ سلنه ګډنوالو ځواب هو او ۱۲،۷ سلنه ځواب نه وه.

## په پکتیکا کی  د چاپیریال ساتنی په برخه کی د عامه پوهاوی حالت

داچې په پکتیکا د چاپیریال ساتنی اړوند د خلګو پوهاوي ډیر کم دی نو ځکه ککړوونکی مواد په اوبو، ویالو او نورو عامه ځایونو کی اچوي. که چیری دا حالت  دوام  وکړي نو لیری نده چی په یو ناورین به بدل شی، دا ځکه چی دولت بغیر د خلګو له برخه اخستنی څخه نه شی کولی چی په یواځی سر د ککړتیا مخنیوی وکړي. د چاپیریالی ساتنی په فعالیتونو کی د عامه خلګو د راښکیلولو لپاره عامه پوهاوی زیات مهم دی.




انځور (۱): a- د مسجد د استنجاء په ځای کی غایطه مواد، b- د عمومی سرک د پاسه فاضله مواد، c- د صحت عامی ریاست او مرکزی روغتون تر څانګ فاضله اوبه او فاضله مواد، d- عمومی لاری ته نیژدی او د دوکانو مخی ته غایطه مواد،e- کورونو ته نیژدی ساحو کی د فاضله اوبو ټانکرونو خالی کول

## مناقشه (Discussion)

د ځيږنې پايلې ته په کتو سره په افغانستان کې د ککړتیا په مخنیوی کې د دولت د پاتی راتلو مهم او اساسی لامل د چاپيريال ساتنی اړوند د عامه پوهاوی کموالی دی. عام وګړي چې کوم فاضله مواد او فاضله اوبه توليدوي په کنترول کې له دولت سره همکاری نه کوي. دا ځکه دوی لدي خبر ندي چې دا مواد ددوي په روغتيا او چاپيريال باندي ډيره ناوړه اغيزي کوي.ډيريدونکی نفوس، ښارکيدنی (Urbanization) او فقر طبعی منابعی تر فشار لاندی راوستی چې د لامنځه تلو له ګواښ سره مخامخ کړيدي. چاپيريالی ککړتيا مخنيوی يواځی د قوانينو په وسيله نه شی کيدای، همدارنګه د ټولنی د وګړو برخه اخستنه په چاپيريال ساتنه کی مهم رول لري. که چيری خلګو ته د چاپيريالی ستونزو لکه اقليمی بدلون، د تنوع له منځه تلو،اوزون طبقی له منځه تلو، له ګواښ سره مخامخ انواعو غيری قانوانی تجارت، چاپيريالی ککړتيا، فاضله موادو او فاضله اوبو او داسی نورو د اغيزو په هکله عامه پوهاوی ورکړل شی، نو دولت به په ډيری اسانی سره دا ډول ستونزو مخنيوی وکړي(Gour, 2013) . دا چې زيات ککړوونکی مواد خپله د خلګو له خوا توليديږی، که چيری خلګ په پاکولو کی مرسته ونه کړی نو دولت په يواځی سر مخنيوی نه شی کولی. نو ځکه بايد عام خلګ د چاپيريالی ساتنی اړوند فعاليتونو کی راښکيل شی، چې ددي کار لپاره عامه پوهاوی ډير اړين او مهم ګڼل کيږی. د چاپيريال ساتنی په برخه کی عامه پوهاوی زيات اهميت لری، دا ځکه يواځی د عامه پوهاوی او معلومات ته د لاسرسی په وسيله کولی شو چې عام خلګ د چاپيريال ساتنی په فعاليتونو کی راښکيل کړو (Rahmani & Nor Anuar, 2019 ).

## پايله اخستنه (Conclusion)

دا ساحوی ځيړنه چې د پکتيکا ولايت په مرکز شرنه کی په چاپيريال ساتنه کی د عامه پوهاوی د اهميت په هکله تر شوی ده، پدي ځيړنه کی د ښوونی او روزنی پوهنځی د بيولوژی، فزيک او رياضی څانګی ۷۱ تنو محصلينو برخه اخستی وه. د ځيړنی د ګډونکوونکو له جملی څخه 59.2 سلنه د عامه پوهاوی د سطحی لوړول او ۳۵.۲ تنه يی د چاپيريالی قوانينو پلی کول مهم ګڼی. د عامه پوهاوی د نشتوالی له امله خلګ د چاپيريال ساتنی په فعاليتونو کی برخه نه اخلی . که چيری دا حالت همداسی دوام ولری نو ليری نده چې په يو ناورين به تبديل شی ، دا ځکه دولت په يواځی سر نه شی کولی چې د چاپيريالی ککړتيا مخنيوی وکړي.نو دي ځيړني او تيرو ليکنو کتنی څخه دا پايله اخستل کيږي چې په چاپيريال ساتنی کی عامه پوهاوی ډير مهم او اساسی رول لري. دا ځکه د عامه پوهاوی او معلوماتو ته د لاسرسی په وسيله کولی شو چې عام خلګ د طبيعی منابعو ساتلو او د چاپيريال ساتنی په فعاليتونو کی برخی اخستنی ته وهڅوو.

## References


Apichatibutarapong , S. (2018, 10 30). Factor Affecting on Public Awareness Concerning University Environment. *Economy, Sustainable Development and Energy International Conference (ESDEIC*, pp. 2-3. doi:10.3390/proceedings2221369

Mohamed, E., Kidundo, M., & Tagelseed, M. (2006). Environmental_Education_and_public_Awareness. *Workshop on Post Conflict National Plan for Environmental Management in Sudan* (p. 3). Khartoum, Sudan: Researchgate.

Rahmani, H., & Nor Anuar, A. (2019). Challenges and Resolutions for Sustainable Domestic Wastewater Management in Kabul City, Afghanistan. *International Journal of Engineering and Advanced Technology (IJEAT)*, 1398. doi:10.35940/ijeat.A1222.109119

Rapaport, C., & Ashkenazi, I. (2016). Incorporating Public Awareness into Climate Change Health Planning. *SM Tropical Medicine Journal*, 1.

UNEP. (2006). *Raising awareness of climate change:A handbook for government focal points*. CH-1219 Châtelaine (Geneva), Switzerland: United Nations Environment Programme's Division of Environmental Law and Conventions.

Gour, M. (2013, 10 29). *Environmental Sciences*. Retrieved from http://mjcetenvsci.blogspot.com

Xua, L., Shen, J., Marinova, D., & Guo, X. (2011). Quantitative assessment on public awareness of environmental protection in response to environmental incidents: a case for Taihu Lake algae bloom . *19th International Congress on Modelling and Simulation, Perth, Australia* (p. 1718). Perth, Australia: modsim. Retrieved from http://mssanz.org.au/modsim2011

د لیکوال لنډه بیوګرافی:

پوهنیار حزب الله (رحمانی) د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسی د ښوونی او روزنی پوهنځی د بیولوژی څانګی د علمی کادر غړی دی، چی په ۲۰۱۹ م کال کی د مالیزیا د UTM پوهنتون له Malaysian -Japan International Institute of Technology څخه په Sustainable System کی خپله ماستری تر لاسه کړیده. تر اوسه پوری یی یوه مقاله (Challenges and Resolutions for Sustainable Domestic Wastewater Management in Kabul City, Afghanistan) تر عنوان لاندي په نړیوال Scopus index ژورنال کی خپره شویده.